## مطبوعاتي اعلامیه

# که اوسنۍ رهبري د کشمیر په پلورلو کې لاس نه لري؛ نو وسله‌وال ځواکونه دې پرېږدي چې د کشمیر ازادۍ ته ور ودانګي!

اوس ښکاره شوې چې د پاکستان رهبري د واشنګټن په همکارۍ، د ۲۰۱۹م کال، په اګېسټ کې مودي ته لار هواره کړه چې کشمیر د هند له خاورې سره وتړي. د کمزوري اقتصاد او د پوځ د نه چمتووالي افسانې یوازې له کشمیر سره د خیانت پلمې وې. په دې توګه د پاکستان پوځي او سیاسي رهبرۍ د ټرمپ په امر کشمیر د مودي لمنې ته وغورځاوه. څو میاشتې وروسته یې مودي ته د کنټرول پر کرښه اوربند ډالۍ کړ. کله چې هندو حکومت له چین سره په شخړه کې ښکیل شو، د پاکستان رهبرۍ مودي ته بیاځلي ډاډ ورکړ چې دوی به د کنټرول پر کرښه د پاکستان وسله‌وال ځواکونه نه بسیجوي. اوس پوښتنه دا ده چې ایا د هند پر وړاندې د اوسنۍ رهبرۍ پالیسي هماغه د باجوه د خیانتونو دوام دی؟

د پاکستان اقتصاد که هر څومره کمزوری او خلک یې نهیلي وي؛ کشمیر لکه وینه زموږ په رګونو کې روان دی. د پاکستان ولس له لسیزو راهیسې د کشمیر جهاد په خپل سر او مال خرڅوب کړی. نن هم که رهبري د کشمیر د ازادۍ لپاره د جهاد اعلان وکړي، خلک به د تبوک د جګړې په یاد خپل کورونه خالي کړي. که لګښت ۱۰۰ یا ان ۱۰۰۰ ملیارده روپۍ هم وي، خلک به یوازې په څو ورځو کې خپلې خزانې د حکومت خزانې ته ورکړي. پاکستان اوس د خپلو نفتو ۲۰ سلنه اړتیا له کورنیو تولیداتو پوره کوي، دا د جګړې د وخت اړتیاوو لپاره بسنه کوي. په دې کې خو لا د پاکستان د سټراټیژیکو نفتو ذخیرې نه دي حساب شوې.

د پاکستان د پوځ چمتووالی ټولو ته ښکاره دی. د دې ښکاره ثبوت شته چې د پاکستان هوایي ځواک د امر له ترلاسه کولو وروسته په څو ساعتونو کې د هند دوې جنګي اوتکې را وغورځولې او هندی پیلوټ، ابهینندان یې ژوندی ونیو. تر کومه ځایه چې د اټومي جګړې د ګواښ خبره ده، د روسیې - اوکراین له جګړې روښانه شوه چې دودیزې جګړې تر اټومي فشار لاندې هم کېدی شي. تر دې وړاندې د کارګل جګړه له کوم اعتراض پرته تر اټومي فشار لاندې وشوه. کله چې د دواړو اړخونو د ویجاړۍ خبره وي، د اټومي وسلو کارول ناشوني دي. بیا هم، ګټه هغه اړخ کوي چې د کارولو نیت یې لري. هغه اړخ ګټه نه کوي چې وېرېږي او په ملي رسنۍ له جګړې تېښته اعلانوي.

حزب التحریر- ولایه پاکستان په ډاګه کوي چې که اوسنۍ رهبري د باجوه د خیانت خلاف وي، باید د کنټرول پر کرښه اوربند پای ته ورسوي او وسله‌وال ځواکونه د سرینګر پر لور بسیج کړي. که داسې ونه شي نو روښانه کېږي چې یوازې څېرې بدلې شوې؛ د واشنګټن غلامي او مودي ته اسانتیاوې برابرول پر ځای پاتې دي. د شانګهای د همکارۍ سازمان په غونډه کې هندو دولت ته د بهرنیو چارو وزیر، بلاول بوټو سفر ښیي چې اوسنۍ رهبري پر ناسمه لار روانه ده. د کشمیر د موضوع د حل پر لور د حرکت لپاره له وړاندې ناوخته دی. اوس د دې وخت دی چې ژر تر ژره دا ځنډ اصلاح شي.

**اې د پاکستان وسله‌والو ځواکونو!** تاسو له پوځ سره د دندې، تنخوا، موقف، پلان او تقاعد لپاره نه یاست یوځای شوي. دا کوچنۍ خبرې باید ستاسو سترګې پټې نه کړي او نه مو وغولوي. دا خو د دغې دوې ورځې دنیا ډېر محدود امکانات دي. تاسو چې کله مرش کوئ، باید هر له خیانت ډک ترون تر پښو لاندې کړئ. د هغې خاینې رهبرۍ جرړې ایستل ستاسو مسولیت دی چې ستاسو د جهاد او دین د اظهار مخه نیسي. د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ. هغه وخت به زموږ خلیفه د ځان ساتنې او پوځ د مهار، تسلیمۍ او معاملې لپاره نه، بلکې د دعوت او جهاد په موخه د وسله‌وال پوځ مشري وکړي. هغه وخت به اسلام ټوله سیمه فتح کړي او غالب به شي. هغه وخت به د نبوت پر منهج خلافت اوسنی نړیوال نظم ړنګ کړي او د صلیبیانو دسیسو ته به د پای ټکی کېږدي. نو اوس د عمل لپاره نورو کومو شواهدو ته اړتیا لرئ؟ الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[فَذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمُ الْحَـقُّ ۚ فَمَاذَا بَعْدَ الْحَـقِّ إِلَّا الضَّلالُ فَأَنّٰى تُصْرَفُونَ]**

**ژباړه:** «په دغو صفتونو سره خو همدا الله تعالی ستاسو حقیقي رب دی. نو تر حق وروسته له ګمراهۍ پرته نور څه پاتې شول؟ - ښه نو تاسو کومې خوا ته اړول کېږئ؟» [یونس: ۳۲]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴هـ.ق کال، د شولا ۹مه**

**۲۰۲۳م کال، د اپریل ۲۹مه**

**د صدور ګڼه: ۳۵/ ۱۴۴۴**

**ژباړه: فریدون محتاط**